VERMONT
DEPARTMENT OF TAXES

**د شتمنۍ ټیکس کریډټ**

The Vermont Property Tax Credit (د ورمونټ د شتمنۍ ټیکس کریډټ) د ورمونټ ډېرى كور لرونكو سره د شتمنۍ د ټیکسونو په وركولو كې مرسته كوي. كېدى شي تاسو د خپلې شتمنۍ پر ټيكسونو د شتمنۍ د ټیکس کریډټ وړتيا لرئ كه چيرې ستاسو شتمني د كور په توګه وړ وي او تاسو د وړتيا اړتياوې پوره كوئ. د ايالت د پوهني د شتمنۍ د ټیکس د برخې لپاره تر ټولو زيات كريډټ $5,600 دى او د ښاروالۍ د شتمنۍ د ټیکس د برخې لپاره $2,400 دى.

**وړتیا**

د شتمنۍ ټیکس کریډټ فايل كولو لپاره، تاسو بايد د وړتيا لاندې وركړل شوې ټولې اړتياوې پوره كوئ:

- ستاسو شتمني د كور په توګه وړ وي، او تاسو د روان كال د لوى نوملړ لپاره د كور اعلاميه سپارلې وي.
- تاسو د ټیکس وړ ټول كال لپاره د ورمونټ استوګن يئ.
- تاسو د بل ټیکس وركوونكي د متكي ادعا نه وي كړې.
- تاسو د اپريل تر 1 نېټې پورې په دغه شتمنۍ كې د خپل كور په توګه استوګن شوي يئ.
- كه تاسو دا اړتياوې پوره كوئ، پرته له دې چې ستاسو كور د اپريل تر 1 نېټې كوم كرايه دار ته په اجاره وركړل شوى وي، تاسو بياهم كولى شئ د كور په توګه د دې ادعا وكړئ كه چيرې دا د ادعا په كال كې د 182 ځخه د زياتو ورځو لپاره په اجاره نه وي وركړل شوى.
- تاسو د كور د عايداتو كچه پوره كوئ (د روان كال د عايداتو د حد لپاره فورمه وګورئ).

**څنګه به دا سپارئ**

د شتمنۍ د ټیکس کریډټ غوښتنه كولو لپاره تاسو لاندې دوه فورمې سپارلو ته اړتيا لرئ. تاسو كولى شئ خپله ادعا په اليكټرونيكي توګه پر myVTax د يوازې فايل كولو په توګه وسپارئ يا هغه وخت كله چې تاسو خپل د Vermont Income Tax (د ورمونټ د عايداتي ټیکس) سندونه سپارئ.

- HS-122 فورمه، د كور اعلاميه او د شتمنۍ د ټیکس کریډټ ادعا
- برخه A: د كور اعلاميه
- برخه B: د شتمنۍ د ټیکس کریډټ ادعا
- HI-144 مهالوېش، كورني عايدات. د خپلو كورني عايداتو ټاكلو ځرنګوالي زده كړئ.

د ټیکس كال: 2023تر ټولو زيات كورني عايدات: $128,000

د ټیکس كال: 2022تر ټولو زيات كورني عايدات: $134,800

د ټیکس كال: 2021تر ټولو زيات كورني عايدات: $136,900

د ټیکس كال: 2020تر ټولو زيات كورني عايدات: $138,500

د ټیکس كال: 2019تر ټولو زيات كورني عايدات: $138,250

د ټیکس كال: 2018تر ټولو زيات كورني عايدات: $136,500

د ټیکس كال: 2017تر ټولو زيات كورني عايدات: $147,500

د ټیکس كال: 2016تر ټولو زيات كورني عايدات: $141,000

VERMONT
DEPARTMENT OF TAXES

**د سپارلو ټاکلې نېټه**

د شتمنۍ د ټیکس کریډېټ ادعا سپارلو ټاکلې نېټه ستاسو د ورمونټ د عایداتي ټیکس سندونو او د کور د اعلامیې د سپارلو نېټې ته ورته ده، کومه چې په ټولیزه توګه د اپریل 15 ده. که تاسو خپل د کور اعلامیه د اکتوبر 15 پر غزول شوې ټاکل شوې نېټه سپارئ، نو تاسو بیا هم کولی شئ د راتلونکي کال تر مارچ 31 پورې د شتمنۍ د ټیکس کریډېټ ادعا وسپارئ. بیاهم، د پروسس کولو 150$ فیس به ستاسو د شتمنۍ د ټیکس کریډېټ څخه لیرې کولی شي. د اکتوبر د 15 څخه وروسته، د شتمنۍ هر یو ټیکس به ښار ته نه بلکې د کور څښتن ته نېغ په نېغه لیږدول کېږي.

**ادعا ترمیمول**

که تاسو د شتمنۍ د ټیکس کریډېټ ادعا د خپل کور د ادعا سره سپارئ، نو تاسو پرېښله لرئ چې لاندې مالومات ترمیم یا بدل کړئ کوم چې پر HS-122 فورمو، د کور د اعلامیې او د شتمنۍ د ټیکس کریډېټ پر ادعا او HI-144، کورني عایداتو لیکل شوي وي، څو دغه ترمیمونه د اپریل د سپارنې ټاکل شوې نېټې څخه په درې کالو کې دننه ترسره کړل شي:

- کورني عایدات،
- د کور ارزښت،
- د کور د زده کړې ټیکس،
- د کور د ښاروالۍ ټیکس، او
- د څښتنوالۍ سلنه

که تاسو خپل ترمیم شوي سندونه په الیکټرونیکي توګه نه سپارئ، نو تاسو کولی شئ د اړوند کال لپاره HI-144 مهالوېش، کورني عایدات وکاروئ څو کورني عایدات ترمیم کړئ. سم کورني عایدات ولیکئ او پر HI-144 AMENDED ولیکئ. دغه ترمیم شوی HI-144 ریاست ته سپارل کېدونکو د نورو کومو سندونو نه جلا راولیږئ.

خپل سند دلته په پوست کې راولیږئ:

**د ورمونټ د ټیکسونو اداره**

**P.O. Box 1645**

**Montpelier, VT 05601-1645**

**د ټیکس فورمې او لارښوونې**

**د myVTax لارښوونې**

- [myVTax لارښوونه کوې چې څنګه د کور اعلامیه یا د شتمنۍ د ټیکس کریډېټ ادعا وسپارئ (myVTax Guide How to File a Homestead Declaration or Property Tax Credit Claim)]

**د ټیکس فورمې او لارښوونې**

د فورمو، لارښوونو، او د شتمنۍ د ټیکس کریډېټ شمېرونکي لپاره لاندې وګورئ کوم چې د ریاست له خوا د ټیکس ورکوونکو او چمتو کوونکو د اسانتیا لپاره وړاندې کړل شوی دی څو د هغه شتمنۍ د ټیکس کریډت کچه مالومه کړئ چې ټیکس ورکوونکی به یې د شتمنۍ د ټیکس په راتلونکي کال کې ترلاسه کوي.

- [د ورمونټ د عایداتو د ټیکس د سندونو کتابچه: په دې کتابچه کې د لاندېنیو لپاره فورمې او لارښوونې دي: IN-111، IN-112، IN-113، IN-116، HS122، RCC-146، HI-144 (Vermont Income Tax Return Booklet: This]

booklet includes forms and instructions for: IN-111, IN-112, IN-113, IN-116, HS-122, RCC-146, HI-144)

- HS-122، HI-144، ورمونټ د کور اعلامیه او د شتمنۍ د ټیکس کریډیټ ادعا (HS-122, HI-144, Vermont Homestead Declaration AND Property Tax Credit Claim) او لارښوونې (Instructions)
- HS-122، د شتمنۍ د ټیکس کریډیټ شمېرونکی (HS-122, Property Tax Credit Calculator)
- HS-122W، ورمونټ د کور اعلامیه او/یا د شتمنۍ د ټیکس کریډیټ بیرته اخیستل (HS-122W, Vermont Homestead Declaration and/or Property Tax Credit Withdrawal)

**د حقیقتونو پاڼې او لارښوونې**

- د ټیکس بیلونه او د شتمنۍ د ټیکس د سمون د مالوماتو محرمیت (Tax Bills and Confidentiality of Property Tax Adjustment Information)
- ورمونټ د شتمنۍ د ټیکس کریډیټ (The Vermont Property Tax Credit)
- ورمونټ د شتمنۍ د بیل بیکر (Vermont Property Bill Backer)
- ورمونټ HI-144 مهالویش: د کورنۍ عایداتو ټاکنه (Vermont Schedule HI-144: Determining Household Income)
- د کور لرونکو لپاره د ورمونټ د ټیکس مالومات کوم چې د کورونو د مالي مرستې د تړون لاندې دي (Vermont Tax Information for Owners of Housing Subject to a Housing Subsidy Covenant)
- ویټرانز او د شتمنۍ ټیکسونه: تاسو باید څه وپېژنئ (Veterans and Property Taxes: What You Should Know)

**قانونونه، اصول، او مقررات**

- مقررات § 1.5401(7) کور (Regulation § 1.5401(7) Homestead)
- مقررات § 1.5811(11)(A)(i)، §1.5401(7)، (14)، §1.6066(c) استوګنځی (Regulation § 1.5811(11)(A)(i), (§1.5401(7), (14), §1.6066(c) Domicile)
- تخنیکي بولیټین 20: د وارثانو ادعاوې (Technical Bulletin 20: Claims of Decedents)
- تخنیکي بولیټین 51: د ټولو عایداتو د ترمیم شوي HI-144 مهالویش سمول (Technical Bulletin 51: Adjustment to Modified Gross Income Schedule HI-144)
- *تخنیکي بولیټین 56 (بیاکتنه یې روانه ده): پر HI-144 مهالویش کورنۍ عایداتو د سوداګرۍ عایدات، K-1 عایدات، د کرایه عایدات او د پانګې ګټه راپور کول (Technical Bulletin 56 (Under Review): Reporting Business Income, K-1 Income, Rental Income and Capital Gain on Schedule HI-144 Household Income)*